# د نارجانو د کورنی د پاڼی چینجی

## LEAF MINERS ( CITRUS LEAFMINER—*Phyllocnistis citrella*)



جینجی په پانو او میوه کی



بنیته په بتیتی ځاله کی





ځوان پتنگ





دلته ځوانه او بتیته حشره یوځای ښکاری

# توضیحات: CARDS

سوری کوونکی چینجیان په مختلفو حشراتو پوری اړه لری اوډیری میوه لرونکی ونی اوسابه تر یرغل لاندی راوړی. دنارنجودخاندان چینجی چی دپاڼی پرمخ ښکاری دپټنګ کورنی چینجی ده. نورچینجی مچانو،مچیو ،غالبوزو اوګونګټو پوری اړه لری . دتناکوپه شکل خاپونه چی په پاڼه کی ښکاری داسی ځای دی چی واړه چینجیان دپاڼی له منځ څخه یعنی دلوړی اوټیټی طبقی په مینځ کی اوسیږی اودپاڼی دمینځ پسته برخه دی چینجیو په واسطه خوړل شوی اودنازک کاغذپاس اولاندی برخه پاتی وی یو نوع پرازیتی مچی د چینجیوپه مینځ کی هګی اچوی دا اوکله چه رنګ ئی تغیر وکری دا حالت ښکاریږی.

کله چه حشره وژونکی کیمیاوی توکی ولږول شی دا ستونزه لا پسی زیاتیږی دا ځکه چه دا کیمیاوی مواد د چینجیانودښمن یعنی مچی له مینځه وړی او چنجی لاپسی زیاتیږی.

# تفتیش اونظارت :-

له فیرومونی تلکونه کاروالخلی ترڅودپاڼوبالغ نر حشرات معلوم کړو چه څه وخت ددی چینجیونفوس زیات دی.څوکله چه دمخنیوی تصامیم نیول کیږی باید د فعالو چینجیودنفوس په اساس وی چه له دری کلونو او کم عمره ونوکی موجود وی ځارنه یا نظارت باید په هله پیل شی چه په ۵۰ فیصده ونو کی چینجی پیدا شوی وی.

په تصادفی (( Random ډول لس پاڼی له مختلفو ځایونونه راوړی اودعدسی په واسطه چینجی پکښی معاینه شی ځوانی ونی چه تر ۳۰ فیصدوپوری چینجنی شوی وی اوژوندی چینجی پکښی وی بایددواپاشی شی خو زری ونی ترهغه وخته چه شدیدا اخته شوی وی دوا پاشی شی .

# مخنیوی :-

څرنګه چه دا چینجی دپاڼود دوو طبقوترمینځ پوښ شوی نو له کیمیاوی تداوی سره زیات مقاومت لری خو پرازیتی مچی په طبیعی ډول شتون لری اغیزمنی دی خو که ضرورت پیښ شی نوله ابامکتین اوامیداکلوپرایدپه خاوره کی دڅاڅکیودابولګولو په واسطه او یا سپینوساید وکارول شی.همیشه په دواپاشی کی د باغداری له تیلونه کاروالخلی .